د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د (متفرقې) مديريت

نېټه: ۲۹/ ۱۱/ ۱۴۴۴ هـ ق
مصادف: ۲۸/ ۳/ ۱۴۰۲ هـ ش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

ګڼه: ۱۸۰۲

**د افغانستان اسلامي امارت د ټولو ولایتونو استیناف، ابتدائیه او د ولسوالیو محکمو محترمو ریاستونو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۳۵۵۳) مورخ ۱۴۴٤/۹/۲۶ هق د تعمیل په موخه، د ستري محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۳۸) مورخ ۱۴۴٤/۱۰/۲۰ هق د څلورمې پریکړې په اساس د اخترونو او نورو مناسبتونو له امله د عفوې مستحق بندیانو د خلاصون لپاره د اصولو د تاکلو لپاره هیئت تعین کړ چې یاد هیئت د عفوې مستحق بندیانو د معلوماتو لپاره اصول ترتیب کړ او یاد اصول د ستري محکمې د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴٤/۱۱/۲۵هق کې مطرح شوه چې په اړه یې د تصویب نمبر (٤۳) د لومړۍ پریکړې په اساس په لاندي ډول هدایت صادر شو:

((یاد اصول چې د مشرتابه محترم عالي مقام د یاد حکم په رڼا کې ترتیب شوي دي، د حکم سره یوځای دي ټولو محکمو ته واستول شي او هغه هیئتونه چې د ۱۴۴٤هق کال د کوچني اختر په مناسبت د عفوې مستحقینو معلومولو لپاره ټاکل شوي وه د ۱۴۴٤هق کال د لوی اختر په مناسبت د عفوې مستحقینو معلومولو لپاره دي د یکشنبې، ۱۴۴٤/۱۱/۲۹هق نېټې څخه خپله هیئتي شروع کړي او د هیئتي پوره کېدلو وروسته دي د محکې په شان د مرکزي تمیز اړوند ولایتونه خپل لستونه د ستري محکمې محترم مقام ته او د جنوب لویدیځ زون د تمیز عالي ریاست او د ستري محکمې قضائي معاونیت مربوط ولایتونه دي خپل لستونه د جنوب لویدیځ زون د تمیز عالي ریاست او د ستري محکمې قضائي معاونیت ته واستوي، البته یاد معاونیت دي د عفوې مستحق بندیانو مجموعي ارقام د ستري محکمې محترم مقام ته راواستوي تر څو یې د نورو بندیانو د ارقامو سره د نشر لپاره یو ځای کړو.))

بناءً د ستري محکمې د عالي شورا پورته تحریر شوي هدایت، د اخترونو او نورو مناسبتونو له امله د عفوې مستحق بندیانو د معلومولو لپاره د اصولو د ترتیب په اړه د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۳۵۵۳) مورخ ۱۴۴٤/۹/۲۶ هق، د یاد حکم په رڼا کې ترتیب شوي اصول او د ۱۴۴٤هق کال د کوچني اختر په مناسبت د ټاکل شویو هیئتونو ترتیب د دې مکتوب مل په ( ) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت ټولو محکمو ته واستول شو او د دې مکتوب د کاپي په توسط، یاد هدایت او اړونده اوراق د زندانونو چارو د سمون ادارې، د کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو لوی ریاست ته واستول شو تر څو یاد ارګانونه په مرکز او ولایتونو کې خپلو اداري واحدونو ته خبر ورکړي چې د پورته ترتیب موافق هر څومره ژر چې کېدلای شي، خپل نمائندګان دې د اړونده ولایت استیناف محکمو ته د هیئتي لپاره معرفي کړي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

۱۴۴٤/۱۱/۲۹ هق

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

کاپي: د زندانونو چارو د سمون اداري محترم مقام ته!

کاپي: د کورنیو چارو وزارت محترم مقام ته!

کاپي: د استخباراتو لوی ریاست محترم مقام ته!

کاپي: د جنوب لویدیځ زون د تمیز عالي ریاست او د ستري محکمې قضائي معاونیت محترم مقام ته!

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
ویب سایت: ستره محکمه

د افغانستان اسلامي امارت
د مشرتابه مقام دفتر
د دفتر ریاست
د واردې شمېره: ۷۵۴ نېټه: ۱۴۴۴/۹/۱۸ هـ ق

**مولوي سیف‌الدین تائب**

**د ا.ا.ا د چارو اداري لوی ریاست سرپرست او**

**د څارنې او پالیسي مرستیال**

**د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله هدایت:**

۳۵۵۳ شمېره
نېټه ۱۴۴۴/۹/۲۶
۱۴۰۲/۱/۲۸

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د دفتر ریاست
د احکامو او فرامینو د ثبت آمریت

د حقوقي تفتیشي او اصلاحي چارو محترم ریاست ته!

وکتل سو!

ستړي مه شې!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

وبعد: تاسو چې فعلاً کوم بندیان بررسي کړي او د عفوې مستحق مو ګڼلي دي، د عفوې اجمالي او یا تفصیلي لیستونه را ولېږئ! ترڅو د کوچنۍ اختر په مناسبت خوشې کړل سي.

الحمدلله تاسو تر راتلونکي لوی اختر پوري د دغه بندیانو څخه پرته چې په دایمي حبس محکوم وي، په داسې جرم محکوم وي چې حد ورباندې جاري کېږي، یا په قتل، اختطاف او حق العبد کې مجرم وي، یا په سیاسي ډول جرمونو کې بندیان سوي وي، د نورو بندیانو لپاره چې د اخترونو یا نورو مناسبتونو له امله د عفوې مستحق کېدلای سي اصول جوړ کړئ او موږ ته یې را ولېږئ!

والسلام

صادره
۵۰۲
۱۴۴۴/۹/۲۴

د افغانستان اسلامي امارت

قوه قضائیه

## ستره محکمه

# د اخترونو او نورو مناسبتونو له امله د عفوې مستحق محبوسینو او محجوزینو اصول

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

کال: ۱۴۴۴هـ ق مصادف ۱۴۰۲هـ ش

## د اختروتو او نورو مناستونو له امله د عفوې مستحق بنديانو اصول:

### مقدمه

نحمده و نصلی علی رسوله الکريم امابعد فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم: د افغانستان اسلامي امارت د چارو د اداري لوی رياست د مکتوب نمبر (۹۰۷۹) مورخ ۱۴۴۴/۹/۲۷هق په توسط د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۳۵۵۳) مورخ ۱۴۴۴/۹/۲۶هق رارسيدلی وو چې په هغه کې ستري محکمې ته داسې هدايت شوی وو: (د هغه بنديانو څخه پرته چې په دائمي حبس محکوم وي، په داسې جرم محکوم وي چې حد ورباندې جاري کيږي، يا په قتل، اختطاف او حق العبد کې مجرم وي، يا په سياسي درنو جرمونو کې بنديان سوي وي، د نورو بنديانو لپاره چې د اخترونو يا نورو مناسبتونو له امله د عفوې مستحق کيدلای سي اصول جوړ کړئ او موږ ته يې راوليږئ.) د مشرتابه محترم عالي مقام د هدايت مطابق د ستري محکمې د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۴/۱۰/۲۰هق کې د (۳۸) نمبر تصويب د څلورمې پريکړې په اساس د يادو اصولو جوړولو په موخه هيئت تعين شو، ياد هيئت د عفوې مستحق محبوسينو او محجوزينو لپاره اصول ترتيب کړه چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

### لومړی فصل

#### د اخترونو او نورو مناسبتونو له امله د عفوې مستحق نارينه بنديانو د خلاصون شرائط

۱ – هغه بې سرنوشته بنديان چې د مربوطه مراجعو څخه يې د پوره معلوماتو وروسته دوسيه پيدا نشي او مدعي جانب هم خپله موضوع نه وي تعقيب کړي نو خلاص دي شي.

۲ – هغه بنديان چې مدعي جانب په حق العبد کې ورته ابراء کړي وي او يا يې صلح ورسره کړي وي او د هيئت په نظر هم د ايله کيدو مستحق وبلل سو ايله دي سي.

۳ – هغه بنديان چې د تحتاني محاکمو لخوا يواځې په حبس محکوم شوي وي(په درو وهلو نه وي محکوم شوي) او د حبس موده يې پوره شوي وي، اګر که موضوع يې په لوړه محکمه کې تر اصولي جريان لاندې وي، په ضمانت دي خلاص شي البته که هيئت يې لازم وبولي بې له ضمانت څخه يې هم ايله کولای شي ليکن هيئت دې په ياد صورت کې مربوطه محکمې ته مکتوبي خبر ورکړي.

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

٤ – هغه بندیان چې اصل مجرمین نه وي بلکه د خپلو اقاربو (ورور، پلار، ښځې وغیره...) په جرم کې نیول شوی وي خلاص دي شي.

٥ – هغه بندیان چې په صعب العلاج مرض مبتلاء شوی وي او په بندیخانه کې یې علاج نسو کیدلای، د ماهر طبیب (ډاکټر) تر تصدیق وروسته دي په ضمانت خلاص شي.

٦ – هغه بندیان چې د عمر په لحاظ ضعیف وي او د اصلاح علامې پر ښکاره سوي وي او د هیئت په نظر د عفوې مستحق وبلل شي، له بند څخه دې خلاص شي.

٧ – هغه بندیان چې واړه اولادونه ولري د کور سرپرست هم ونه لري، د کور یواځینی سرپرست وي او د حدود او قصاص په بدلې تعزیز محکوم شوی نه وي، ودي کتل شي څرنګه چې هیئت لازم وبولي (په ضمانت یا بې له ضمانته) دي د بند څخه خلاص شي.

٨ – هغه بندیان چې د یوه جرم په تور څو کسان نیول شوي وي، له دوی څخه هغه کسان چې: په جرم یې اقرار نه وي کړی، د جرم د اثبات لپاره مثبته دلیل وربانديي موجود نه وي او هغه کسان چې له دوی سره یو ځای نیول شوي، هم دا اقرار کوي چې دی زموږ سره په جرم کې شریک نه دی، د بند څخه دي خلاص شي.

٩ – هغه بندیان چې جرم یې غټ نه وي او واقعي د اصلاح علامې پر ښکاره شوي وي له بند څخه دي خلاص شي، او هغه بندیان چې جرم یې غټ وي او د حبس کافي موده یې تیره شوي وي که هیئت یې د اصلاح علاماتو ته په کتلو مستحق د ایله کیدلو وبولي ایله دي سي.

١٠ – هغه مدیون بندي چې د فقر دعوی یې صحیح وي او له اقاربو او کلیوالو څخه یې هم پوښتنه شوي وي، په ضمانت بالنفس دي خلاص شي.

١١ – د محبوس تر څه بند وروسته قاضي ته خبر راغلی چې دا بندي مفلس دی او دائن غائب وو قاضي به یې په کفالت بالنفس ایله کړي.

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

۱۲ که مدیون د مال د یتیم یا د وقف وي یا دائن غائب وي کفیل ضروري دی.

۱۳ – هغه مدیون بندي چې د مال د پیدا کولو وعده وکړي په ضمانت بالمال سره دي خلاص شي.

۱٤ – هغه بندیان چې د نشه ئي موادو د حمل او نقل په تور نیول شوي وي، که د یادو موادو مقدار د هیئت په نظر کم وي د خلاصولو اختیار يې هیئت ته مفوض دی.

**یادونه:** د ستري محکمې د عالي شورا د تصویب نمبر (۳۰) مورخ ۱٤٤٤/۷/۲۲هق لومړی، دویمه او دریمه پریکړه دې په نظر کې ونیول شي.

۱۵ – هغه بندیان چې د نشه ئي موادو د تولید په تور نیول شوي وي، په داسې ضمانت چې بیا به و دغه تولید ته مخه نه کوي د بند څخه دي خلاص شي.

## دویم فصل:

**د اخترونو او نورو مناسبتونو له امله د عفوې مستحق زنانه بندیانو د خلاصون شرائط**

۱٦ – هغه زنانه بندیانې چې د کور څخه د تبنتیدلو (فرار از منزل) په تور نیول شوي وي، د بل چا منکوحه نه وي، پس له تبنتیدلو يې له هغه چا سره نکاح کړي وي د چا سره چې تبنتیدلې وه او زنا يې ثابته شوي نه وي، تیر شوی حبس دي کافي ورته وبلل شي او له بند څخه دي خلاصې شي.

۱۷ – هغه زنانه غیر منکوحه بندیانې چې د کور څخه د تبنتیدلو (فرار از منزل) په تور نیول شوي وي، او د حد جرم نه وي پر ثابت شوی، که هیئت يې په ایله کیدلو کې مصلحت ویني، د بند څخه دي خلاصې شي.

۱۸ – هغه زنانه بندیانې چې د کور څخه يې فرار نه وي کړی او پرته د ثبوت د زنا څخه، فقط د نامشروع اړیکو په تور نیول شوي وي، که د اصلاح علامې پر ښکاره شوي وي د بند څخه دي خلاصې شي.

۱۹ – هغه زنانه بندیانې چې د عمر په لحاظ ضعیفې وي او د اصلاح علامې پر ښکاره سوي وي او د هیئت په نظر د عفوې مستحقې وبلل شي، له بند څخه دې خلاصې شي.

۲۰ – هغه زنانه بندیانې چې شیرخور اطفال ولري او جرم يې ثابت شوي نه وي، د بند څخه دي خلاصې شي.

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

۲۱ – هغه زنانه بندیانې چې موضوع یې د زنا وي البته مسقط د حد وي او په حق الله کې بندیانې وي، ودې کتل شي که د حد په بدلې تعزیر(حبس)محکومې شوې نه وي او د اصلاح علامې پر ښکاره شوي وي د بند څخه دې خلاصې شي.

## دریم فصل:

## د اخترونو او نورو مناسبتونو له امله د عفوې مستحق نابالغه محجوزینو د خلاصون شرائط

۲۲ – هغه نابالغه (د حنفي فقهې د راجح قول مطابق) محجوزین چې په حقوق الله کښې بندیان وي یعني د لواطت په موضوع کې او محکمې ته ثابته شي چې له دوی سره لواطت جبراً شوی دی هغه دې له بند څخه خلاص شي او هغه نابالغه محجوزین چې لواطت یې جبراً نه وي یا یې لواطت تکرار کړی وي، په دارالتأدیب کې دې د اصلاح تر وخته وساتل شي.

۲۳ - هغه نابالغه محجوزین چې د زناء په تور نیول شوي وي په دارالتأدیب کې دې د اصلاح تر وخته وساتل شي.

۲٤ – الف: هغه نابالغه محجوزین چې په مختلفو جرمونو لکه: (غلا، کیسه بري ، قتل وغیره) نیول شوي وي او دغه عمل تکراري نه وي، جانب مقابل ورته په حق العبدي کې ابراء کړې وي یا یې ورسره صلح کړې وي او یا یې مقابل جانب دعوی ترک کړې وي په ضمانت دې ایله شي.

ب: که جرم یې متکرر وي او په حق العبدي کې جانب مقابل ابراء ، عفوه او صلح نه وي کړې هغه دې د اصلاح تر وخته په دارالتأدیب کې وساتل شي.

۲۵ – هغه بندیان چې په اصولو کې یې حکم نه وي واضح شوی د مخ ته راتلو په صورت کې دې د ستري محکمې د محترم مقام هدایت واخستل شي.

۲٦ – په دغه کړنلاره کې د تاکل شویو اصول مطابق، هغه بندیان چې د بند څخه خلاص شي د هغو دوسیې دې حفظ شي.

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

۲۷ – د عفوې او تخفیف مستحق محبوسینو او محجوزینو اصول چې په (۳) فصلونو او (۲۷) شرائطو کې ترتیب شوه، د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام تر تائید څخه وروسته د انفاذ وړ بلل کیږي.

شیخ جلال الدین «حقاني»

د ستري محکمې د مرکزي تمیز

د امنیت عام دیوان رئیس

مفتي عتیق الله «درویش»

د ستري محکمې د مرکزي تمیز

د جزاء عمومي دیوان رئیس

شیخ عبدالمالک «حقاني»

د ستري محکمې

اداري معاون

۱۴۴۴ ۱۱/۱۷

امارت اسلامی افغانستان

ستره محکمه

ریاست عمومی دارالانشاء